**بسم الله الرحمن الرحیم**

## له رمضان څخه یوه یا دوې ورځې وړاندې باید روژه ونه نیول شي

**(ژباړه)**

له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**"لاَ يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ، إِلاَّ أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ"** (سنن ابن ماجه)

*ژباړه: په تاسو کې هېڅوک باید له رمضان څخه یوه یا دوې ورځې وړاندې روژه ونه نیسي؛ مګر یوازې هغه کسان یې نیولی شي، چې معمولاً نفلي روژه نیسي.*

دغه حديث موږ هغو موضوعاتو ته متوجه کوي چې ځينې مسلمانان يې د جهل او يا د ثواب په ګومان ترسره کوي او په دې توګه په تقوا کې زياتوالی کوي. پام مو وي چې ځينې کسـان د رمضـان مبارکې مياشـتې له پيل څخه يوه يا دوې ورځې وړاندې په دې موخه روژه نيسـي، ترڅو د روژې او د رمضـان مياشتې په بشپړولو کې يې احتياط کړی وي او يا دا چې د رمضان له راتګ وړاندې يې ورته ځان چمتو کړی وي؛ مګر ځينې نور بيا دغه کار د دې لپاره ترسره کوي، چې په ځانګړو ورځو کې د نفلي روژې نيولو عادت لري او په تصادفي ډول يې روژه له رمضان څخه يوه او يا دوې ورځې وړاندې برابره شي.

څوک چې دغه کار د شک له مخې وکړي او يا يې په دې خاطر ترسره کړي، چې د رمضـان مياشـت په سمه ورځ پيل کړي او له همدې امله د رمضان مخکينۍ او وروستۍ ورځې روژه ونيسي، دغه کړنه يې د ځينو دلايلو پر اساس ناروا ده؛ لومړی دا چې په پورتني حديث کې په شکمنو ورځو روژه نيول منعه شوي دي، همدارنګه په اسلامي شريعت کې عبادات توقيفي دي او په هغو کې بايد کمی او زياتی ونه شـي، ترڅو ترسـره کوونکی شـخص د يوه بدعت کار په سـبب په يوې لويې ګناه کې ښکېل نه‌شي. د فقهې ټول علماء په دې مسئله کې د نظر اتفاق لري؛ مګر بيا هم د ځينو مسلمانانو لخوا دغه کار په يوه عادت بدل شـوی دی. اوسـنيو حکامو هر څه د فساد خواته وړي، حتی زموږ عبادات هم چې په سر کې يې لمونځ او روژه دي! پر همدې اساس يې مسلمانان په فتنه کې غورځولي دي.

مګر څوک چې دغه کار د عبادت لپاره د چمتووالي په موخه ترســره کړي، هغوی هم د دغه حديث له مخې ناســم کار کړی دی؛ ځکه عبادت يو جسمي ورزش نه دی چې لومړني چمتووالي ته دې اړتيا ولري، بلکې روژه د الله تعالی لپاره يو خالص عبادت دی، چې په هغې کې روح له مادي ســره يو ځای کېږي. هر عبادت ځانګړي ارکان، احکام او شــرطونه

لري، چې پـه هغو کې بـايـد کمی او زياتی ونشـــي، ترڅو حرامو ته د داخلېدو لامل نشـــي. زموږ دنده يوازې دا ده چې عبادات بايد يوازې په هغه طريقه ترسره کړو، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر موږ رسولې ده.

مگر يوازې هغه کسـان دغه کار ترسـره کولی شـي او روژه يې سـتونزه نه لري، چې هغوی په ځانگړو ورځو کې د روژې نيولو عادت لري او روژه يې په تصادفي توگه له رمضان څخه يوه او يا دوې ورځې وړاندې برابره شوې وي. دا حديث او له دغه حديث سره نور موافق احاديث د دغې چارې لپاره دليل دی.

يوازې له الله سـبحانه وتعالی څخه غواړو چې په دې مبارکه مياشـت کې له موږ سـره په قيام او روژه نيولو کې داسـې مرسته وکړي، چې د هغه سبحانه وتعالی د خوښې او رضايت لامل کېږي! له الله تعالی څخه غواړو چې موږ ته توفيق راکړي، ترڅو پر احکامو يې يو څه ور زيات او کم نه کړو او د شـيطان د بدعتونو بنسـټ کېنږدو! له الله سـبحانه وتعالی غواړو چې موږ د هغو کسانو له شر څخه خلاص کړي، چې زموږ ژوند او عبادات د فساد په لوري بيايي. اللهم آمين!

**ليکوال: ماهر صالح**

**ژباړن: صهيب منصور**